# پرمختیا

UNDP
Afghanistan

۹ لړم ۱۳۸۶

ګڼه: ۰۷/۰۵

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري میاشتنی خبرپاڼه


## په دې ګڼه کې:


د افغانستان د ځوانانو ګډ ملي پروګرام: نه یوازې د ځوانانو لپاره بلکې له ځوانانو سره ګډ کار کوي ۲

د بیوزلي له منځه وړنې نړیوال ورځ په مناسبت د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د عمومي رییس پیغام ۳

د ملګرو ملتونو په پرمختیایي اداره کې د ټولنیز جنیست مسلی ته سم ځای ورکولو هڅه ۴

د راستنوشو کډوالو له حالې د خلکو د خبرولو ستونزې ۵


نوی بین المنطقي نوښت چي لوبې د سولې لپاره کاروي

## ۱۲ افغان ځوانانو د اردن د شاهزاده فیصل په نوښت په سیمه کې د سولې د ټینګښت لپاره جوړ شوي پروګرام کې برخه واخیسته

د افغانستان د پوهنې وزارت، د افغانستان د المپیک ملي کمېټې، د ملګرو ملتونو د نفوسو وجهي صندوق، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري او مدني ټولنې په استازیتوب دولسو افغان ځوانانو په هغه مقدماتي روزنه کې برخه واخیسته چې د اکتوبر پر ۲۱مه نېټه د اردن په پلازمینه عمان کې د اردن د المپیک د کمېټې د رییس شاهزاده فیصل الحسین له خوا په سیمه کې د سولې د ټینګښت په موخه پیل شوه.

د افغانستان لوبغاړو د بېلابېلو سیمو له شپږو هېوادونو څخه راغلیو ۷۰ لوبغاړو په منځ کې په دغه پروګرام کې برخه واخیسته چې موخه یې د لوبو او معلولیت او لوبو او ټولنیز یووالي تر منځ اړیکو ته د خلکو پام اړونه وه.

د راغلو ځوانانو لپاره د۱۰ ورځني روزنیز پړاو د پیلولو پر مهال شاهزاده فیصل په خپلو خبرو کې ووېل "دغه استازي د لوبو له لارې د سولې د ټینګښت مخکښان دي او دلته به پر دې پوه شي چې خپلو هېوادونو ته له ستنېدو وروسته څنګه د لوبو له لارې د سولې د خپراوي د پروګرامونو لړۍ ته ادامه ورکړي. " عراق، لبنان، فلسطین، سوډان، سرلینکا او افغانستان په دغه نوښت کې برخه اخلي. د لوبو له لارې د سولې د رامنځته کولو په پروګرام کې درې برخې په پام کې نیول شوې وې: د ځوانو مشرانو ورزول شول چې څنګه د بېلو شوو ټولنو نه ماشومان د ګډو لوبو لپاره سره راټول کړي، په دې روزنه کې د عملي لوبو له لارې دوی ته هغه سناریوګانې ښودل کېدلې چې په خپلو ټولنو کې ورسره مخ کېدای شي؛ د سولې په هکله پوهاوی او د ټولګیو دننه روزنه چې د شخړو د اورولو کارپوهانو په کې د ځوانانو مشرانو ته روزنه ورکوله او دوی ته یې ښوونه کوله چې څنګه دغې لړۍ ته ادامه ورکړي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري له دغه نوښت سره د افغانستان په ګډون په ټاکل شوو هېوادونو کې د ځوانانو د مشرانو د معلومولو له لارې مرسته وکړه.

د لوبو له لارې سوله د اردن د شاهزاده فیصل الحسین نوښت دی چې د ۲۰۰۷ په اپریل کې پیل شو. په دغه پروګرام کې هڅه شوې چې د نړۍ د بېلابېلو برخو نه د بېلو شوو ټولنو د ځوانانو مشران سره راټول کړي او بیا دوی وروزي چې څنګه د لوبو له لارې د بېلو شوو ټولنو ماشومان سره یو کړي. دغه پرورګرام په لوبو کې د دواړوو خواوو د ګډون او د ځوانانو د روزل شوو مشرانو د سمې لارښوونې له لارې هڅه کوي چې ماشومان وهڅوي چې خپل منځ کې خبرې اترې وکړي، پر خپل منځي اختلافاتو پوه او درناوی یې وکړي، ډېر زغم وښیي او د لوبو له لارې د بشر ځانګړتیاوې وپېژني.

کله چې دغه ډلې خپلو هېوادونو او پرګنو ته ستنې شي له دوی سره به د د معلوماتو او لارښوونو د شریکولو له لارې د هغو مسایلو د اوارولو په برخه کې مرسته وشي چې دوی ورسره مخ کېږي او انټرنېټ له لارې به دوی خپلې بریاوې او ستونزې سره شریکوي. له دې پروګرام سره همدارنګه د لوبو د وسایلو مرسته کوونکې خیریه اداره هم مرسته کوي چې د ځوانانو له مشرانو سره به د روزنې له بشپړولو وروسته د لوبو د وسایلو مرسته وکړي.

> ”راغلي استازي د لوبو له لارې د سولې د ټینګښت مخکښان دي او دلته به پر دې پوه شي چې خپلو هېوادونو ته له ستنېدو وروسته څنګه د لوبو له لارې د سولې د خپراوي د پروګرامونو لړۍ ته ادامه ورکړي. “
> د اردن شاهزاده فیصل

دغه لس ورځنۍ روزنه د نومبر پر لومړۍ نېټه پای ته ورسېده.

**د زربزې د پرمختیایي موخو، د نړیوالو پرمختیایي رپوټونو او نورو په زړه پورې معلوماتو لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري ویبپاڼه وګورئ:**

www.undp.org.af

## د افغانستان د ځوانانو ګډ ملي پروګرام: نه یوازې د ځوانانو لپاره بلکې له ځوانانو سره ګډ کار کوي

د افغانستان د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام ستره ننګونه د ځوانانو پر غوښتنو پوهېدنه او د دوی اړتیاوو ته ځواب وینه ده. پر همدې خبرې د اتو وزارتونو او د ملګرو ملتونو د اوو مؤسسو هڅې تمرکز کوي. کله چې له ځوانانو نه وپوښتل چې اړتیاوې یې څه دي ځوابونه یې توپیر هغه ډول چې د دوی عمرونه، تیر حال او جنس توپیر لري. د تیر اګست په میاشت کې له ۳۴ ولایتونو نه تر ۳۰۰ ډیر ځوانان سره پر دې ټکي د خبرو اترو لپاره سره راټول شول چې څنګه د دوی او د نورو ځوانانو په ژوند کې ښه والی راوستل کېدای شي. دوی تر خبرو اترو وروسته د یو شل نقطه یي اعلامیې مسوده خپره کړه چې له زده کړې نیولې تر کار موندلو پورې بېلابېلې غوښتنې په کې په څرګنده توګه ښودل شوي دي. په نومبر کې به په ولایتونو کې لا نورې سلامشورې ترسره شي. د کلیو او ولسوالیو د ځوانانو نظریاتو ته هم هرکلی ویل کېږي. د ځوانانو د ګډ پروګرام ننګونه به دا وي چې دغه ارزښتناک نظریات راټول کړي او مثبت ځواب ورکړي او داسې لاره خپله کړي چې د افغان ځوانانو په ژوند کې د ښه والي راوستلو سره رښتینې مرسته وکړي. دغه پروګرام غواړي چې نه یوازې د ځوانانو لپاره بلکې له ځوانانو سره یو ځای کار وکړي او باید د ځوانانو د خوښې وړ وي او ځوانان یې مشري پر غاړه ولري.



په کابل کې د ځوانانو روزنیز پارلمان© د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره

د ځوانانو ګډ پروګرام کولای شي د خپل لومړي کال د څېنو برياوو یادونه وکړي. د بېلګې په توګه، د کابل له ښوونځیو نه ۱۰۳ ځوانان د ټاکنو له لارې غوره شول چې د روزنیز پارلمان له لارې په پارلماني بهیر کې برخه واخلي. په بېلابېلو ولایتونو کې ۲۵۸۰ ځوانانو ته د ټولنیزو مسؤولیتونو، رضاکاری، حکومت چلولو، ټاکنو، مشرتابه، د شخړو اوارولو او د سولې د ټینګولو په څیر موضوعاتو په هکله روزنه ورکړای شوې ده. د ۶ ولایتونو په ۶۰ کلیو کې د ځوانانو ۱۲۰ شوراګانې، ۶۰ د هلکانو او ۶۰ د نجونو، جوړې شوې دی. د ماشومانو د ساتنې د ولایتي شبکو ۳۰۰ غړو په هغو ولایتي ورکشافونو کې برخه اخیستې چې د ماشومانو پر خلاف د تاوتریخوالي، ناوړه ګټه اخیستنې او تبعیض د مخنیوي د وسایلو د کارونې د څرنګوالي په هکله جوړ شوي وو. په ټولنه کې د پخوانیو وسله والو او له جګړې نه اغیزمنو شوو ځوانانو د بېرته میشته کولو د پروګرام د یوې برخې په توګه ۳۵۴۱ له ۱۴ تر ۱۸ کلو ځوانانو د لیک لوست، مسلکي مهارتونو او د روغتیایي زدکړو په برخه کې روزنه ترلاسه کړې ده. ۴۶ جوړه ښوونکو ته د جنسي او ولادي روغتیا په هکله روزنه ورکړای شوې ده. په شپږو ازمېښتي ولایتونو کې د ځوانو د چارو د معین تر مشرۍ لاندې د ځوانانو د معلوماتو او اړیکو مرکزونه پرانیستل شوي دي. دغه مرکزونه غواړي چې ځوانانو ته ګټور معلومات وړاندې کړي او مرسته ورسره وکړي چې خدمتونو ته یې لاس ورسېږي او همدارنګه له زیات ګواښ سره مخ ځوانانو نه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوي ته زیاته پاملرنه کوي. شپږ واړو مرکزونو ته د ځوانانو د چارو معینیت ځای ورکړی دی.

د اطلاعتو او کلتور وزارت د ځوانانو د چارو معینیت د پروګرام مشري او د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره یې د همغږۍ مسؤولیت پر غاړه لري. د عامې روغتیا، د کار او ټولنیزو چارو، د لوړو زده کړو، د پوهنې ، د کلیو د بیارغونې او پرمختیا، د عدلیې او د ښځو د چارو وزاتونه هم په دې پروګرام کې برخه لري.

**دریم مخ کې ادامه لري**

د دې سربېره په پروګرام کې د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره، يونيسف، هابيتات، د ملګرو ملتو رضکاران، د ملګرو ملتونو د نفوسو وجهی صندوق او يوناما هم ونډه لري.

موږ د هغو مرستندويانو د مرستو مننه کوو چې د ځوانانو پر اهميت پوهيږي، په ځانګړي توګه د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيا اداره، د متحده ايالاتو دولت، هسپانيا، NORAD او د سويډن د نړيوالې پرمختيايي اداره.

د ځوانانو د ګډ ملي پروګرام يوه ننګونه به دا وي چې څنګه د ځوانانو بشپړه برخه اخيستنه باوري کړي. موږ بايد د دوی غږ واورو او ځواب ورکړو. دوی د افغانستان نن او راتلونکي جوړوي او موږ بايد دوی ته هر څه چې مو له وسه کيږي وکړو.

پالیټ شاز

## د بېوزلي له منځه وړنې نړيوال ورځ په مناسبت
## د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د عمومي رييس پيغام



اوو کاله وړاندې نړۍ سره راټوله شوه او ژمنه يې وکړه چې بېوزلي به پخپلو ټولو بڼو کې له منځه وړي او د هر چا لپاره د يوې ښې نړۍ د جوړېدو لپاره به کار کوي. دغه لرليد د زريزې په اعلاميه او د زريزې په اتو پرمختيايي موخو کې، چې له اعلاميې نه راوتلې، ونغښتل شو. د زريزې په موخو کې تر ۲۰۱۵ پورې د هغو کسانو شمېر نيمايي ته راټيټول چې په سختې بېوزلي او لوږه کې اوسيږي؛ ټولو نجونو او هلکانو ته د لومړنيو زدکړو ورکول؛ د ښځو او نارينه وو مساوات ته وده ورکول او د ښځو پياوړي کول؛ د ماشومانو او ميندو د مړيني کمول؛ له ايچ آی وي/ ايډز او داسې نورو ناروغيو سره مجادله، او د چاپېريال د پايښتي باوري کول شامل دي.

دغه موخې د پرمختيا لپاره د نړيوال ګډ کار له ژمنې سره پياوړې شوې دي. د ګډ کار ژمنه په حقيقت کې د بېوزلو او بډايو هېوادونو تر منځ يو تړون دی چې بېوزلي هېوادونه به د بېوزلۍ کمولو ته پام اړوي او بډای هېوادونه به د فعاله همکار په توګه ورسره مرسته کوي. د زريزې پرمختيايي موخې نړيوالې منل شوې موخې دي چې هغه وخت تر لاسه کېدای شي چې ټول فعالان ګډ کار وکړي او خپله برخه په ښه توګه ترسره کړي.

اوس، د ۲۰۱۵ تر هدف پورې د لارې نيمايي کې، ښکاره ده چې په ډېرو ساحو کې د پام وړ پرمختګ شوی دی. د هغو کسانو شمېر چې پر ورځ کې تر يوه ډالره کم عايد باندې ژوند تيروي شاوخوا ۲۵۰ ميليونه راکم شوی، لږ تر لږه په نړيواله کچه داسې ښکاري چې موږ به د سختې بېوزلي او لوږې د نيمايي کولو موخه ترلاسه کړو. په ځينو سيمو کې لا ډېر ماشومان، هم نجونې او هم هلکان، په ښوونځي کې دي او خلک د اوږد او ګټور ژوند تمه کولای شي.

خو د نړۍ په ټولو برخو کې ورته خبره نه ده. لکه چې ما تيره اونۍ په موزامبيق، تانزانيا، او روانډا کې وليدل، په داسې حال کې چې ډېر افريقايي هېوادونه د بېوزلۍ په وړاندې جګړه کې ريښتيني پرمختګ کوي، د زريزې د پرمختيايي موخو او نورو پرمختيايي هدفونو د ترلاسه کولو ننګونه په ځانګړې توګه د افريقا په صحرا کې حاده مسله ده، چېرې چې يوازې څو هېوادونه د ټاکل شوو موخو د ترلاسه کولو په لارې کې کافي پرمختګ کوي.



په پلازمينه کابل کې افغانان پر خپل ورځني کار بوخت دي © ګتي ايميجز

نن ورځ، په نړۍ کې، تر یو میلیارد ډیر خلک د څکاښ پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري، هر ورځ د ایچ ای وی او ایډز له امله ۶،۰۰۰ کسان مري او ۷۵۰ میلونه کسان لیک لوست نشي کولای چې ۵۰۰ میلونه یې ښځې دي. د هوا د بدلون اغیزه هم د ډیرو پرمختیایي هیوادونو، په ځانګړې توګه د غریبو هیوادونو لپاره ویروونکې ننګونه ده.

خو هرو مرو دغه انځور ضرور نه دی چې په خپل حال پاتې شي. د ټاکل شوو موخو ډیرې په اکثریت هیوادونو کې د لاسته راوړلو وړ دي. د دې کار په خاطر باید د پرمختیا لپاره د ګډ کار کولو د دوو مهمو اړخونو درناوی وشي.

لومړی د ښوزلی د له منځه وړلو د نړیوالې ورځې د سړکال له موضوع سره تړلې چې ښوزلې کسان باید د بدلون د استازو په توګه دنده ترسره کړي. مخ په ودې هیوادونه باید خپل پرمختیایي بهیر په خپل لاس کې ولري او د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره باید د دوی کاري وړتیا لوړه او دوی دومره ځواکمن کړي چې د خپلې پرمختیا واړې په خپل لاسه کې ونیسي. دا په دې مانا ده چې زموږ مرسته به لاډیره اغیزمنه وي څکه چې د ښوزلو کسانو د لوړمړیتوبونو په ملاتړ او د دوی له شرایطو سره به سم ترسره کیږي.

دا نظر 'هغه کسان چې په ښوزلې کې ژوند کوي د خپل بدلون استازي دي' کېدای شي په محلی کچه پلي شي خو تر ملي کچې یې هم لمن خپرېدلای شي چیرې چې خلک د تګلارو د ځارنې او د بودجو د بیاکتنې له لارې د خپل ژوند د بدلولو په برخه کې ونډه اخیستلی شي همدارنګه په نړیواله کچه، چیرې چې ښوزلې هیوادونه باید په هغو نړیوالو بنسټونو او بهیرونو کې بشپړه ونډه واخلي چې د دوی د هیواد پر پرمختګ اغیزه کوي.

د ګډ کار دویمه برخه دا ده چې که څه هم ښوزلې خلک باید په خپل پرمختګ کې مخکښ نقش ولوبوي، موږ هم ژمنه کړې چې له دوی سره به اړینه مرسته کوو. هغه ژمنې چې نړیوالې ټولنې لا له وړاندې کړې لکه د مرستې ډیرول او ښه کول، د پور له هغې ستونزې سره په هر اړخیزه توګه مقابله کوله چې مخ په ودې هیوادونه ورسره مخ دي او د سوداګرۍ د داسې یو سیستم رامنځته کول چې د ښوزلو هیوادونو اړتیاوو ته په خپل زړه کې ځای ورکړي باید ډیر وخت دوام وکړي چې دزریزې پرمختیایي موخو ترلاسه کېدا باوري شي. د چاپریال او کړاوالی په خیر مسالو په هکله د ټولو هیوادونو تګلارې او اقدامات باید تر خپله وسه له پرمختیا سره مرسته وکړي، نه یوازې دا چې په یو لاس یو څه ورکړو او په بل لاس یې ترینه واخلو.

د ښوزلې د له منځه وړلو په دې نړیوالې ورځ کې باید موږ یو ځل بیا د زریزې د ټولو پرمختیایي موخو او په ځانګړې توګه د ښوزلې په وړاندې د جګړې پورتنیو دوو برخو د لاسته راوړنې ژمنه وکړو، چې په دې توګه نړۍ کېدای شي تر ۲۰۱۵ پورې د ټاکل شوو موخو د لاسته راوړنې لپاره تر کېدونکې اندازې پورې سره نږدې شي.

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په پرمختیایي اداره کې د ټولنیز جنیست مسایلو ته د سم ځای ورکولو هڅه**

## نوې پروژه چې پروګرام جوړونه کې د ټولنیز جنسیت پر مسایلو د تمرکز ظرفیت لوړوي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په پرمختیایي اداره کې د ټولنیز جنیست مسایلو ته د سم ځای ورکولو پروژه به، چې د ۲۰۰۷م په اکتوبر کې لاسلیک شوې، د افغانستان په ملي پرمختیایي تګلاره کې د ښځو او نارینه وو د مساوات ملي موخې سره د اغیزمنې مرستې لپاره د نومونې ادرې په مرکزي دفتر کې کاري ظرفیت لوړ کړي. دغه نوښت د یو ټیم له جوړېدو سره پیل شو چې په هغه کې د بشري ځواک، د زده کړې د پروګرام او د اړیکو د څانګو استازي برخه لري. دوی هر یو به په خپل وار هڅه کوي چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې په اداري جوړښت او پرواګم جوړونه کې د ټولنیز جنسیت مسایلو ته سمه پاملرنه وکړي. له دغه ټیم سره به د همدې موخې لپاره جوړه شوې پروژه، چې په دې میاشت کې تاید شوې، مرسته وکړي. د دې نوښت له لارې هڅه کیږي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې کاري وړتیا لوړه کړي او په دې توګه د ښځو او نارینه وو د مساوات د ملي موخې په لار کې اغیزمنه مرسته وکړي، هغه ډول چې د افغانستان په لنډمهاله ملي پرمختیایي تګلاره او د زریزې په پرمختیایي موخو کې په ګوته شوې ده.

دغه پروژه به د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د کارکوونکو په ځانګړې توګه د پروګرام د مسؤلینو او مدیرانو پر کاری وړتیا لوړونه تمرکز وکړي چې د ښځو او نارینه وو تر منځ نا انډولیو باندې پوه شي او د ټولنیز جنسیت له پلوه سمې پروژې طرحه کړي. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د مرکزي دفتر او د پروژو کارکوونکي به، که هغه په مدیریتي یا اداري کارو بوخت وي، هڅه وکړي چې د نارینه وو او ښځو تر منځ تناسب کې ښه والی راولي او د ښځو او نارینه وو لپاره یو برابر کاري چاپریال رامنځته کړي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له افغان دولت سره مرسته کوی چې د ښځو او نارینه وو د مساوات هدف ته ورسیږي چې همدغه هدف د زریزې د پرمختیایي موخو دریم هدف دی.

په ۲۰۰۶ م کې یوې ارزونې ومونده چې که څه هم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د افغان دولت په ځانګړې توګه د ښځو د چارو له وزارت سره د کاري ظرفیت لوړولو په برخه کې مرسته کوي، ډیری خپلې پروژې یې هغه فرصتونه له لاسه ورکوي چې د ښځو او نارینه وو یو برابر پرمختیا او برخه اخیستنې ته وده ورکولای شي.

دغه پروژه به د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د هغې پروژې متممه وه چې په څو مهمو وزارتونو کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې اړوندو پروژو تر منځ همغږی او همغاړیتوب ته د ودې ورکولو له لارې د جنسي مساوات لپاره د اداري بنسټونو د ظرفیت لوړولو تر نامه لاندې د افغان دولت له کاري ظرفیت لوړونې سره مرسته کوي.

څلورمه پاڼه

# د راستنوشوو کډوالو له حاله د خلکو د خبرولو ستونزې

له ۲۰۰۲ راهیسې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو کمیشنرۍ (UNHCR) په پاکستان او ایران کې تر ۴ میلونه ډېرو افغان کډوالو سره مرسته کړې چې بېرته خپل پلرني هېواد ته ستانه شي. درې میلونه یې اوس هم په ګاونډیو هېوادونو کې اوسیږي. که څه د خبرونو سرټکي پر نورو مسایلو راڅرخي، دا هغه خلك دي چې تر ټولو ډېر له ګواښ سره مخ دي. تر ډېره بربده دوی هیر شوي وګړي او پرګڼې دي. دوی د داسې سخت زور زیاتي او ځورونې له امله خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شوي وو چې ډېر کم پرې پوهیږي. نن چې دوی خپل هېواد ته راستانه شوي او غواړي چې خپل ژوند په ډېرو سختو شرایطو کې بیا پیل کړي، ډېر یې د څکاښ اوبه، سرپناه او ځمکه نه لري. لومړنۍ اسانتیاوې لکه زده کړه او روغتیا پالنه خو د ډېرو په اند عیاشي ده. په ډېرو سیمو کې امنیتي وضعه ستره اندېښنه ده او دغو سیمو ته د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د کمیشنرۍ ورتګ ورځ په ورځ سختیږي.

د ملګرو ملتونو د نړیوال رضاکار په توګه د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو له کمیشنرۍ سره د اړیکو د سمبالوونکي کار د نورو کارونو په څیر نه دی، په دې مانا چې هره ورځ باید له هغو کسانو سره په تماس کې اوسي چې تر ټولو ډېر اړ او له پامه غورځول شوي دي. د اړیکو د سمبالوونکې په توګه، زه هڅه کوم چې زمونږ ټیم عامه ولس په افغانستان کې د کډوالو له حالت او په پاکستان او ایران کې پرمختګونو نه سم خبر کړي. که څه هم ډېر کار په کابل کې ترسره کیږي خو د افغانستان په نورو ولایتونو کې هم په ساحه کې ډېر څه پېښیږي. مور مزار، کندز، کنړ، جلال آباد، هرات او د کابل شا او خوا ته وخت په وخت سفرونه کوو.

په ځینو میشتغالو کې ورین تندي ماشومان د څکاښ اوبه نه لري او ښوونځي ته یې تګ پر دې مانا ده چې تر دوو ساعتو ډېر په پښو مزل وکړي. په نورو کې بیا سړی هک پک شي چې پرته له هیڅ کاره سړي څنګه خپلې کورنۍ ساتي. په دا بله ورځ بیا کونډې ناستې وي او د شنه چای پر سر د خپلې راتلونکې اندیښنې درته وایي.



**د یو این ایچ سي آر کارکوونکي د راستنو شوو کډوالو سره** *UNHCR ©*

نه په افغانستان او نه د نړۍ په هر بل ځای کې هیڅوك په خپله خوښه نه غواړي چې کډوال شي. خپل پلرني هېواد ته د میلونونو راستنېدونکو کډوالو سفر ډېر اوږد دی. له دغو خلکو سره، چې یو وخت په جګړه کې راګیر وو او نن ورځ له نږدې ۲۰ کلنې جلاوطنۍ نه وروسته خپل هېواد ته د راستنېدو هڅه کوي او بالاخره یو ځای مومي چې دوی یې کور بللی شي، د شخصي مرستې یوه ښه لار دا ده چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو له کمیشنرۍ سره د رضاکار په توګه کار وشي. د دوی زغم اوروحیه انسان ډېر هڅوي. له بل پلوه، په دې دنده کې ما نه یوازې تر ټولو خاکساراه او زړه سوانده انسانانو سره د ناستې موقع درلوده بلکې له دوی مې ډېر څه زده کړي دي. دا همدارنګه هغو کسانو ته د لږ څه ورکولو یو لار ده چې ډېر لږ څه لري خو نورو ته د ورکولو لپاره ډېر څه.

**مریان مګیور**

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، کابل

UNDP Afghanistan

**د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د ملګرو ملتونو هغه نړیواله پرمختیایي شبکه ده چې د بدلون په لار کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي او د ولسونو د ښې راتلونکې لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچینو سره تړي.**

# په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې کار ته عمومي کتنه

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له ۱۹۵۶م کال راهیسې په افغانستان کې شتون لري، چې د پرمختیایي مرستې تر څنګ د ملي بسټونو د ظرفیت په لوړولو کې ورسره مرسته کوي. د طالبانو په رژیم کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې اسلام اباد ته د بېځایه شوو دفترونو له لارې په ټول افغانستان کې له افغانانو سره مرستې ته ادامه ورکړه. په دغه لسیزه کې، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې په افغانستان کې ۲۰۰ میلونه امریکایي ډالر مرسته ولګوله. د ۲۰۰۲م کال په سر کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې په کابل کې خپل نوی دفتر پرانیست.

د افغانستان په وړاندې ستري بشري پرمختیاي ننګونې پرتې دي. د افغانستان د بشري پرمختیا د ۲۰۰۴م کال د رپوټ له مخې، افغانستان د بشري پرمختیا په لړلیک کې د نړۍ په ۱۷۸ هېوادونو کې ۱۷۳م هېواد دی او د زریزې د پرمختیایي موخو شاخصونه یې د افریقا د صحرا تر ډېرو هېوادونو ښکته ځای کې ښیي. په افغانستان کې د بې وزلۍ ژورتیا د بشري پرمختیا په ټولو شاخصونو کې په ثابته توګه جوته ده او د داسې یو هېواد په توګه یې په ګوته کوي چې دوامداره مرستې ته اړتیا لري. له همدې امله، بې له ایرانتیا، د زریزې د پرمختیایي هدفونو د لاسته راوړنې لپاره افغانستان د نړیوال لومړیتوب په توګه پېژندل شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستې په چوکاټ کې کار کوي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې د ۲۰۰۵م کال په ډیسمبر کې له افغان دولت سره درې کلن کاري پلان لاسلیک کړی چې پر درې پرمختیایي ساحو تمرکز کوي: دولت جوړونه، ولسواکي او د مدني ټولنې ځواکمنول او پایښدونکی معیشت. د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې پروګرام کې د ظرفیت لوړولو، ملي مالکیت او د تګلارو په هکله بحث ته پام اړول شوی دی.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره تر هغې کچې د دولت د بنیادي کاري ظرفیت لوړول غواړي چې عامه خدمتونه په مساویانه او پایښدونکې توګه وړاندې کړای شي او د مشروع معیشت لپاره یو مناسب چاپېریال رامنځته کړي.

په پام کې نیول شوې پایلې د افغانستان د مؤقتي ملي پرمختیایي تګلارې له موخو او شاخصونو سره سم تعقیبیږي. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له دولت سره، په ځانګړې توګه د لاندې ډګرونو، د یو لړ پرمختیایي موخو په لاسته راوړنه کې مرسته کوي: امنیت او د قانون واکمنی، اداري سمون، روڼتیا او حساب ورکول، محلي اداره، سیاسي بهیر (ټاکنې او پارلمان)، د مدني ټولنې ځواکمنول، د ښځو او نارینه وو برابری، بشري حقوق، چاپېریال او کلیواله انرژي، په ټولنه کې د پخوانیو وسله والو میشته کول، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې د ملي تګلارې پلي کول او همدارنګه د کلیوالي پرمختیا پلان جوړول او د خصوصي سیکتور پرمختیا.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره ټول کارونه له افغان دولت، د ملګرو ملتونو له نورو ادارو او په پرمختیایي چارو کې ښکیلو مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې ترسره کوي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې له یو شمېر دولتي ادارو لکه د مالیې وزارت، د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د ملکي خدمتونو کمېسیون، د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمېسیون او د ښځو د چارو له وزارت سره په ستراتیژیکه توګه ګډ کار کوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې ته تر ټولو لس ستر مرسته ورکوونکي، د امریکا متحده ایالات، اروپایي کمېسیون، جاپان، کاناډا، بریتانیا، هالنډ، ایټالیا، جرمني، ناروې او نړیوال بانک دي.

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د افغان او نړیوالو پرمختیایي شریکانو د ملاتړ او باور مننه کوي.


**د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، شاه محمود غازي واټ، کابل، افغانستان**

د ټیلیفون شمېره: ۴۰۰۰ ۲۱۲ ۲۰ (۰) +۹۳ یا ۴۰۷۶ ۲۱۲ ۲۰ (۰) ۹۳+

**د دې موضوعاتو په هکله د لازیاتو معلوماتو د غوښتنې او یا د مرستې کولو لپاره:**

کومار ټیکو، د اړیکو د څانګې مشر ( kumar.tiku@undp.org )

فضه حسیني، د عامه اطلاعتو مسؤوله (fezeh.hosseini@undp.org)

www.undp.org.af